مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۲/۱۲/۲۷

د لوږې څونامي

شپږویشتمه برخه

بیا هم لوږه او بیا هم د مرګ ګواښونه

د لوږې څونامي او نورو ګڼو طبعي او انساني ستونزو افغانان دومره ځپلي دي چې د «د افغانانو کړاو ریکارد کچې ته لوړ شوي دي»
د بي بي سي په یوه تازه رپوټ کې داسې راغلي دي:
«د ګالوپ موسسې له لوري تر سره شوې نظر پوښتنه کې خلکو ویلي چې د نیستۍ او خوارۍ ژوند تېروي او ښځې دوي سره کېدونکي چلند ته په پام د راتلونکي په تړاو ډېرې بدبینې دي.
پوښتل شویو نه یوازې د ځان، بلکې د راتلونکو نسلونو په تړاو هم ناهیلي څرګنده کړې.
د ګالوپ موسسې په دې نظر پوښتنه کې چې افغانستان کې د طالبانو له واک ته رسېدو یو کال وروسته تر سره شوې، د افغانانو د ژوندانه ګڼ اړخونه رانغښتل شوي دي.
په دې تړاو تازه خپاره شوي رپوټ کې راغلي، د افغانانو کړاو ریکاډ کچې ته لوړ شوی.
رپوټ زیاتوي: "افغانان اوس په لا خوارۍ کې ژوند کوي او د راتلونکي په اړه بشپړ ناهیلي شوي" .
په دې نظر پوښتنه کې، ۹۸ سلنه خلکو ویلي په نیستۍ او کړاو کې ژوند تېروي. دا کچه ۲۰۲۱ م کال کې چې طالبان تازه واک ته رسېدلي و، ۹۴ سلنه وه.
په رپوټ کې راغلي، که څه هم پر ښځو په ځانګړي توګه محدودیتونه لګېدلي، خو افغان ټولنه کې نارینه او ښځې دواړه په دې باور دي چې ژوند یې خوار دی، دوی انګېري چې کړېږي. خو د نظر پوښتنې د پایلو پر بنسټ، ښځې په ځانګړي توګه راتلونکي ته بدبینه دي. د دوی ۶۹ سلنې ویلي له شته حالته راضي نه دي.
د رپوټ چمتو کوونکي د ښځو دا ذهنیت پر دوی زیاتېدونکو محدودیتونو ته په پام حیرانوونکی نه بولي...»
د لوږې د فشار له کبله خلک هر ډول کارونو ته اړ ایستل کېږي. په دې لړ کې داسې پېښې په افغانستان کې ډېرې شوي دي او اوس هم عملاً رواني دي چې خلک د خپل او خپلې کورنۍ د نس مړولو په پار، د مریيتوب په دایره کې ساتل شوي او اوس هم د عصري مریيتوب پړي پر غاړه لري. دې ستونزو افغانان دومر ځپلي دي چې اوس د افغانستان نوم په هغه لست کې په پنځم مقام کې لیکل شوی دی چې د عصري غلامانو لرونکو هېوادونه بلل شوي دي
د ملګرو ملتونو په یوه تازه رپوټ کې داسې راغلي دي:
«... افغانستان په نړۍ کې د عصري غلامانو لرونکو هېوادونو په ډله کې پنځم ځای لري. د کارګرانو نړیوال سازمان یا 'ای ایل او ' وایي، په تېرو پنځو کلونو کې جبري کارونه او جبري ودونه خورا زیات شوي دي...»
د لوږې د کمولو یا له منځه وړلو لپاره کوردننه او په نړیواله کچه ډېرې هلې ځلې او مرستې شوي دي، خو بیا هم خلک شکایت کوي او د لوږې څونامي ځپلي افغانانو په ډله کې لومړني قربانیان ماشومان ـ کوچنیان او باداره ښځې دي. ماشومان او کوچنیان د خوارځواکۍ له امله د هررنګه نارغیو ښکار کېدای شي او د بارداره ښځو ډېر سلنه نوزېږي ماشومان یا له ستونزو سره دونیا زېږي او یا له زېږېدو سره سم معیوب وي.
د ملګرو ملتونو د یونیسف اداري څو ورځې مخکې ویلي وو چې څه کم یو میلیون افغان ماشومان « د غذایي نا امنۍ له امله د مرګ له ګواښ سره مخامخ دي» همدې موضوع پورې اړوند د ۲۰۲۲ ام کال د دسمبر پر لومړۍ نېټه تاند دا لنډکی رپوټ خپور کړ:
«یونیسف:۹۰۰ زره افغان ماشومان د غذایي نا امنۍ له امله د مرګ ګواښ سره مخامخ دي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تاند:(پنجشنبه، د قوس لسمه) د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق یونیسف خبرداری ورکړی، چې د غذایي نا امنۍ له امله شاوخوا ۹۰۰ زره افغان ماشومان د مرګ ګواښ سره مخامخ دي.
د دغه صندوق یوه مقام دغو فقر او بېوزلۍ ځپلو ماشومانو سره د بېړنیو نړیوالو مرستو غوښتنه کړې او ویلي له مرستو او عاجلو اقداماتو پرته د تلفاتو وېره موجوده ده.
د ماشومانو د ملاتړ یو شمېر نورو نړیوالو ادارو ویلي، چې تر ۱۰ میلیونو افغان ماشومان د کافي خوړو د نه رسیدو له کبله په بد وضعیت کې ژوند کوي.
د سره صلیب نړیوالي کمېټي تېره اونۍ خبر ورکړی و، چې د تېر کال په پرتله سږ کال د ماشومانو د خوارځواکۍ پېښې د تېر کال په پرتله ۹۰ سلنه زیاتې شوي دي.»
نړیوالو مرستندویو ادارو سره له دې چې څو ـ څو ځلې دا خبرداری ورکړی دی چې: «له نړیوالو مرستو پرته به د افغانستان وضعیت نور خراب شي.»، خو ډېری هېوادونه خپله له ستونزو سره مخ دي او نه شي کولای چې له نورو اړو هېوادونو سره بشري مرستې وکړي.
دغه راز سره صلیب هم خبرداری ورکړی وو چې: «ملګري ملتونه: خوراکي توکي ګران شوي او تر ۹۰ سلنې ډېر افغانان کافي خواړه نه لري.»؛ خو تر پخوا د مرستندویه هېوادونو مرستې لږې شوې دي او دلایل یې هم دا کېدای شي چې طبعي او انساني پېښې او ناخوالې تر اټکل ډېرې شوې دي، کورنا ناروغي ټوله نړۍ وځپله او بې اندازې مالي ستونزې یې رامنځته کړې، د اوکراین جګړې هم په نړیواله کچه تضادونو ته داسې لمن ووهله چې ډېرې هېوادونه یې په ځان پورې داسې حیران کړل چې نه یوازې له محتاجو هېوادونو سره مرسته نه شي کولای، بلکې خپل مایحتاج پوره کولو ته حیران دي.
د همدې دلایلو له امله په افغانستان کې د لوږې څونامي څپې مرګونې کېږي او بېوزلې خلک لاپسې ځپي، ان تر دې چې افغان ماشومان شاقه کارونو ته اړایستل شوي دي او داسې کارونه ترسره کوي چې په هېڅ ډول قانون برابر نه دي. د افغان کورنیو د مشرانو له پاره کار نه شته چې د خپلو بچیانو د نس مړولو له پاره کار وکړي، دوی مجبور دي چې وروستۍ لاره انتخاب کړي چې هغه سوال کول او ګدایي ده، هغه هم څوک یوڅه په لاس کې ورته ږدي او څوک څه نه شي ورکولای.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نړیوال شننوکي وايي چې خیریه مؤسسې او نړیوال سور صلیب داسې وايي چې: «افغانان روان ژمي سره د خپلې بقا جګړه کوي»

همدې ستونزه ته تاند په یوه رپوټ کې داسې اشاره کړې ده:

«تاند:(دوشنبه، د عقرب دېرشمه) د سره صلیب نړیوالې ادارې په افغانستان کې د بشري او اقتصادي وضعیت په اړه تازه راپور خپور کړی.

سرچینه زیاتوي، چې په روان ژمي کې له سختو اقتصادي او بشري ستونزو سره میلیونونه مخامخ افغانان د خپل ژوند د بقا لپاره ګڼو ستونزو سره جنګیږي.

د سره صلیب ادارې مشرې مارتین شوپ په دغه راپور کې د نړیوالو له لوري د طالبانو د حاکمې ادارې په رسمیت نه پېژندل او اقتصادي بندیزونه، د افغانستان بانک د میلیاردونو ډالرو کنګل کیدل او ګڼ نور لاملونه د افغانستان د اقتصادي او بشري ناورین اصلي سرچینې دي.

سره صلیب په ژمي کې د بشري ناورین د شدت خبرداری ورکړی او ویلي، چې په دې موسم کې ډېر افغانان د خپل کور توکي پلوري خو د ژمي په سختو ورځو کې یې ساړه او لوږه اولادونه ونه وژني.

دغه اداره له خپله اړخه شاوخوا یو نیم زر افغان روغتیایي کارکوونکو ته د معاشونو ورکړه یادوي، چې د دوی د ژوند د تامین او نورو ته یې د روغتیایي خدمتونو د برابرولو سبب شوي دي.

سره صلیب په ژمي کې ۲۴ میلیونه افغانانو ته د عاجلو مرستو په رسیدو ټینګار کړی او ویلي، چې ډېری افغانان په خاص ډول کونډې او یتیمان په درېیو وختونو کې د یوه وخت د غذا په برابرولو هم نه توانیږي.

دا نړیوال سازمان یو ځل بیا د طالبانو له واکمنیدو سره د ۷۰۰ زرو افغانانو د بې کاره کیدو خبر ورکوي، هغه ادعا چې مخکې طالبانو رد کړې وه.»

دا خبره د بیا ویلو ده چې تر څو افغانان په خپلو پښو ونه درېږي، له خپلو امکاناتو نه په استفادې سره خپله، خپلې ستونزې حل نه کړي، د لوږې څونامي نه خلاصېږي. اصلي حللاره دا ده چې دوی خپله ژوند او ټولنه تولیدي کړي، ترڅو چې یوه ټولنه تولید ونلري، د هغوی لاس به ټول عمر د خیر غوښتلو لپاره غځېدلای وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ